# رحمان بابا

# اخلاقي شاعري

- علم وکړي هيڅ عمل ورباندي نه کړی
- لکه طفل هسې لوبې په کتاب کړی
- دهقان کر په لوړه زمکه باندې نه که
- سرکوزي کوه چې بڼ دې مرغذار شي

ويراني په يوه دم كښېږي شي اسانه
مېږه هغه وي چې وراني كړي وداني
ادميت څه په دولت ندي رحمانه
بت كه جوړ شي د سرو زرو انسان ندي

# صوفيانه شاعري

زه په خپله په تا نه یم مین شوې
ستا د لوري په ما شوي د ندا
که صورت د محمد نه واي پیدا
پیدا کړي به خداي نه واي دا دنیا
کل جهان د محمد په روي پیدا شه
محمد دي د تمام جهان ابا

- عجب نده که دا درست جهان زما شي
- چي د درست جهان بادشاه مي دي مولا

# روزمره ژوند

چې الله درسره مل نه وي رحمانه
که لښکري درسره وي یک تنها یه
هر څه تخم چې کړی هغه به یوسي
خپله خپله میوه نیسی هره ونه
هر زنده چې د مرده په قبر ورشي
دمره بس دي نصیحت په دي دنیا

# عشقیه شاعري

که یه مخ په زلفو پټ شي باک یه نشته
تل په ګنج باندې پرته وي اژدها
زه عاشق یم سر و کار مې دی له عشقه
نه خلیل نه داودزي یم نه مومند
ستا کتو مې عجب زخم په زړه وکړ
چې هم وینې تر بهیږي هم خندان دي

زړه مې ستا په ذکر فکر ګلستان
دی
تن مې ستا له غمه پاڼه د خزان
دی

# KHALID KHAN KAKAR